# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**30قوس _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

د وزارت مالي او اداري مرستیال د ناروې د مهاجرت شورا د خوندیتوب او ملاتړ مسؤلې سره ولیدل-----------------1
برای نزدیک به 50 خانواده در ولایت فاریاب بخاری توزیع شد ---------------------------------------------------1
بلخ ولایت کې له ۷ کورنیو سره مرسته وشوه---------------------------------------------------------------------2
8خانواده درولایت خوست کمک نقدی دریافت نمودند------------------------------------------------------------2
زر تنه مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول----------------------------------------------------3
د فرانسې د کډوالۍ د نوي قانون په اړه غبرګونونه ----------------------------------------------------------------4
د فرانسې د کډوالۍ نوي قانون کې مهم ټکي څه دي؟ -----------------------------------------------------------5
توافق محرمانه آلمان با عراق بر سر اخراج پناهجویان ----------------------------------------------------------8
روزا اوتونبایوا: پناهجویان اخراج شده از پاکستان، فقیرترین مردم اند --------------------------------------------11
61مهاجر نامنظم در سواحل لیبی مفقود شده‌اند------------------------------------------------------------------12
فلاویو دی جاکومو سخنگوی دفتر هماهنگی مدیترانه سازمان بین‌المللی مهاجرت اطلاعاتی در این زمینه ارائه کرد12

# متن کامل اخبار

## د وزارت مالي او اداري مرستيال د ناروې د مهاجرت شورا د خونديتوب او ملاتړ مسؤلي سره وليدل

د وزارت ويب سايت



**د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي او اداري مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ناروې د مهاجرت شورا د خونديتوب او ملاتړ مسؤلې سلما عبد اللاهي او مل پلاوي سره پخپل کاري دفتر کې وکتل.**

**په دې ليدنه کې دواړو لورو د کاري پروژو په اړه خبرې وکړې.**
**مېرمن سلما د خونديتوب او ملاتړ په برخه کې د ياد بنسټ د هڅو او خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او زياته يې کړه، چې مرستې د اړتيا له مخې، اړمنو ته په کتو په بېلابېلو برخو کې ترسره کېږي.**
**د وزارت مالي او اداري مرستيال د زيانمنو خلکو د ستونزو د هواري په برخه کې د دې اداري او نورو مؤسسو د کار ستاينه وکړه او ويې ويل:**
**زموږ په هېواد کې ستونزې ډېرې دي، ډېر مهاجر هېواد ته راستانه شوي، سلګونه زره خلک لومړنيو مرستو ته اړ دي.**
**غوره ده چې دغو زيانمنو سره لا نورې مرستې وشي او تاسو ورته پخپلو اصلي موخو کې ځای ورکړئ، موږ به په دې برخه کې تاسو سره همکار يو.**
**دغه راز ښاغلي خروټي د لا نورو مرستو هيله وښوده او زياته يې کړه؛ له هغو بنسټونو مننه کوو، چې په دې برخه کې همکاري کوي او هيله لرو چې په دې برخه کې د مرستندويو بنسټونو هڅې هم د پرمختګ په حال کې وي.**
**په دې غونډه کې د وزارت د مقام دفتر او د داخلي بې ځايه شويو وضعيت ته د رسېدنې رياست، رئيسانو هم شتون درلود.**

## برای نزدیک به 50 خانواده در ولایت فاریاب بخاری توزیع شد

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

برای 48 خانواده نیازمند در ولسوالی های المار و قیصار ولایت فاریاب بخاری، بتاریخ 27 قوس توزیع شد.

برای هر خانواده یک پایه بخاری همراه با وسایل آن از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان بود توزیع شد.

## بلخ ولایت کې له ۷ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت



د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د لېندۍ پر ۲۸نیټه په دغه ولایت کې له ۷ اړمنو راستنېدونکو کورنیو سره د خوراکي، غیر خوراکي او نغدي مرستو د ویش خبر ورکړی.
هرې کورنۍ ته ۱۱ ډوله خوراکي او غیر خوراکي توکي او ۳ زره افغانۍ د یاد ولایت د بیړنیو حالاتو کمیټې له‌خوا وویشل شول.

## 8خانواده درولایت خوست کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت خوست از توزیع کمک نقدی برای 8 خانواده به تاریخ 28 قوس خبرداد.**

**خانواده های مذکور شامل برگشت کننده میباشد که توسط اداره امور مهاجرین آن ولایت قبلاً مستحق شناخته شده بودند.**

**برای 4 خانواده مبلغ 61 هزار و 800 افغانی و به 4 خانواده دیگر مبلغ 30 هزار و 900 افغانی با همکاری موسسه هماهنگی مساعدت ها بود که تحت نظارت اداره مهاجرین آن ولایت توزیع شد.**

## زر تنه مهاجرین په جبري توګه له پاکستان څخه راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**زر تنه افغان مهاجرین د لېندۍ پر ۲۸ نېټه د تورخم او سپین بولدک له پولو څخه راستانه شوي دي.**
**د کندهار د سپین بولدک د سرحدي آمر د راپور له مخې ۹۱ کورنۍ چې ۵۰۵ تنه کېږي، په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شوي دي او د مهاجرینو په اداره کې تر ثبت وروسته د مرستو په موخه د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ، د خوړو او د مهاجرینو نړۍوالو سازمانونو ته ور وپېژندل شول.**
**هرې کورنۍ ته د ګومارل شوو کمېټو لهخوا ۱۰ زره افغانیو په ارزښت مرسته شوې.**
**د یو بل خبر له مخې د ننګرهار د تورخم د سرحدي آمر د معلوماتو پر بنسټ ۹۳ کورنۍ چې ۴۹۵ تنه کېږي د تورخم له پولې څخه هېواد ته راستانه شوي دي.**
**د تورخم د سرحدي آمر په وینا راستنېدونکي په ګومارل شوو کمېټو کې تر ثبتېدو وروسته، د مرستو په موخه د مهاجرینو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مهاجرینو نړۍوال سازمان ته ور وپېژندل شول.**

## د فرانسې د کډوالۍ د نوي قانون په اړه غبرګونونه

مهاجرنیوز

د فرانسې د کډوالۍ نوی قانون ګڼې نیوکې او غبرګونونه راپارولي دي. تنقید کوونکي دا متن «د بهرنیانو ضد» او په تېرو ۴۰ کلونو کې تر ټولو «ارتجاعي» قانون بولي او د مهاجرو پر حقونو یې د منفي اغېزو په اړه خبرداری ورکوي.

د فرانسې د کډوالۍ نوی قانون د سه شنبه په شپه د ډېسمبر په ۱۹مه د ولسي جرګې له خوا تصویب شو. دا په داسې حال کې چې یوه اونۍ وړاندې دا جنجالي متن د ولسي جرګې د استازو له خوا د بحثونو تر پیل مخکې رد شوی و.

په دغه قانون کې د پناه غوښتنې او کډوالۍ شرایط سخت شوي دي او د بېلګې په توګه د ټولنیزو مرستو په برخه کې فرانسویانو ته د بهرنیانو په پرتله ارجحیت ورکړل شوی دی.

دا هم ولولئ :<u>د فرانسې د کډوالۍ نوي قانون کې مهم ټکي څه دي؟</u>

دغه قانون چې د ملي راغونډېدنې ګوند یې «ایدیالوژیک بریا» بولي، د ولسمشر پلویان په دوو برخو وېشلي دي. ځینو سیاستوالو پر یاد متن نیوکه کړې او ځینو نورو بیا ورته منفي رایې ورکړې دي. همداراز د ولسي جرګې له خوا د قانون تر تصویب وروسته د روغتیا وزیر اورلین روسو له خپلې دندې استعفا ورکړه.

ولسي جرګه کې د قوانینو کمېسیون مشر ساشا اولیې چې د ولسمشر مکرون پلوی دی نن چهارشنبه ار تې ال سره خبرو کې وویل: «زه د پاسکا او سرکوزي له تدابیرو سره موافق نه یم او د خپل سیاسي عمر په جریان کې مې [د دغو تدابیرو] پر وړاندې مبارزه کړې ده... فکر کوم چې ځینو مواردو کې قواعد افراطي بڼه لري... له همدې کبله مې دغه قانون ته رایه ور نه کړه«.

»د شرم ور «

بل پلو بیا د کیڼ اړخو سیاستوالو د ولسي جرګې تصمیم د تعجب او د غوسې وړ کار بللی ده. ځینو نورو ویلي دي چې یاد متن د «شرم وړ» دی.

د فرانس انسومیز ایتلافي ډلې اروپایي استازې مانون اوبري په وینا، دا د فرانسې په تاریخ کې د بهرنیانو داسې ضد قانون دی چې هېڅ ساری نه لري. د نومورې همکارې ماتیلد پنو چې پارلمان کې د فرانس انسومیز ډلې مشري کوي فرانس انفو سره خبرو کې دا متن «پر اساسي حقونو برید» بللی دی.

همدارنګه د سوسیالیست ګوند مشر الیویې فور نن چهارشنبه پبلېک سنا ټلویزیون سره خبرو کې وویل: «موږ یوه تاریخي بدلون کې ګډون درلود: د حکومت مشر زموږ له ټولو اساسي اصولو منصرف شو او د جمهوري غوښتونکو له خوا هغه جوړ شوی خنډ پای ته ورسېد چې امانویل مکرون ته اجازه ورکړې وه واک ته ورسېږي.» نومورې له ولسمشر څخه غوښتنه وکړه چې د متن له توشیح څخه ډډه وکړي

»د بهرنیانو ضد» متن

مرستندویه سازمانونو او د کډوالو د حقونو مدافع بنسټونو هم دا متن غندلی دی. د بشري حقونو د لیګ او یوتوپیا ۵۶ په ګډون نږدې ۵۰ سازمانونو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره دا قانون «د بهرنیانو ضد» بللی دی. دوی ویلي دي چې دا «په تېرو ۴۰ کلونو کې تر ټولو ارتجاعي» متن دی.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**دغو سازمانونو همداراز اندېښنه ښودلي ده چې د اقامت نه لرلو له کبله به د ګڼ شمېر بهرنيانو د ژوند شرايط په فرانسه کې ډېر سخت شي.**

**سيماد سازمان پر خپله اېکس پاڼه ليکلي دي چې «د ښي اړخې افراطي ډلې د دغه ايډيالوژيک بريا» په مقابل کې بايد «د اوسني وضعيت جديت» او «په راتلونکي کې د سلهاوو زرو هغو بهرنيانو د ژوند په تړاو موجودو اندېښنو» ته توجه وکړو چې په فرانسه کې اوسېږي.**

**د بخښني نړيوال سازمان هم دغه متن «خطرناک او د مهاجرو د اساسي حقونو ضد» بللی دی.**

**ځينو سازمانونو لکه يوتوپيا ۵۶ ټينګار کړی دی چې د دې متن پر وړاندې به مبارزه کوي. دغه سازمان پر خپله اېکس پاڼه ليکلي دي: «موږ اجازه نه ورکوو [چې دا عملي شي]، موږ پاڅېږو او بريالی کېږو. د هغوی کړکه او قوانين نه شي کولی چې زموږ وحدت له منځه يوسي**

**همدارنګه د پيوستون فدراسيون چې ۹۰۰ سازمانونه يې غړيتوب لري نن چهارشنبه اعلان وکړ چې د اساسي حقونو د مخالفو تدابيرو پر وړاندې به د اساسي قانون شورا ته شکايت کوي.**

**د «روښنګری ضد» قانون**

**پوهنتونونو او تحصيلي موسسو هم د دغه متن په اړه غبرګون ښودلی دی. په دغه قانون کې د بهرنيو محصليو د سهميه بندۍ او همداراز د تحصيلي اقامت کارت د ترلاسه کولو لپاره د ضمانت د ورکولو اصول هم درج شوي دي.**

**د شاوخوا ۲۰ عامه پوهنتونونو مشرانو په يوه اعلاميه کې دغه تدابير د فرانسې د شان او عزت خلاف او د «روښنګرۍ د اصولو ضد» بللي او ويلي دي، دا د بهرنيو محصليون د جذبولو په برخه کې د لوړو زدکړو ظرفيتونه په خطر کې اچوي او د نړۍ په سياسي او فرهنګي ډګرونو کې د فرانسې د پرمختګ مخه نيسي.**

**د سوداګرۍ درېو لويو انستيتيوتونو هم لو پاريزين کې د يوې اعلاميې په خپرولو سره ويلي دي دغه تدابير د نړيوالو سياليو خلاف بللي او زياته يې کړه چې دا به فرانسه کې د لوړو زدکړو راتلونکی په خطر کې واچوي .**

## د فرانسې د کډوالۍ نوي قانون کې مهم ټکي څه دي؟

مهاجرنيوز

**د فرانسې د کډوالۍ جنجالي قانون د سه شنبې په شپه د ولسي جرګې له خوا تصويب شو. دا چې په دغه قانون کې مهم ټکي او بدلونونه څه دي په لاندې مطلب کې يې موندلی شئ .**

**د فرانسې د کډوالۍ قانون د سه شنبې په شپه د ډېسمبر په ۱۹مه د ولسي جرګې له خوا تصويب شو. دا په داسې حال کې ده چې يوه اونۍ مخکې ولسي جرګې دغه مسوده د پارلماني بحثونو تر پيل مخکې رد کړې وه.**

**د پارلمان د استازو تر پرېکړې څو ساعته وروسته د فرانسې ولسمشر امانويل مکرون وويل، د دې قانون د بيا ارزولو لپاره چې د کورنيو چارو وزير ژرالد دارمنن په وينا «په ښکاره او واضحه توګه د اساسي قانون سره ضد مادې» پکې درج شوې د اساسي قانون شورا ته مراجعه کوي.**

پر دغه متن چې د ښي اړخو سیاستوالو ورته رایې ورکړې ګڼې نیوکې شوې دي. د کیڼ اړخې ډلې سیاستوالو دا قانون «د شرم وړ» او «په تېرو ۴۰ کلونو کې تر ټولو ارتجاعي متن» بللی دی. د دغه قانون شخړېزو مادو ته کتنه.

۱ .ټولنیزې مرستې

دا د قانون په مسوده کې تر ټولو شخړیزه موضوع وه. د ښي اړخو سیاستوالو ټینګار کاوه چې بهرنیان باید له دغو مرستو څخه د برخمن کېدو لپاره ۵ کاله فرانسه کې اوسېدلي وي. خو ګډ پلاوي بیا پرېکړه وکړه چې د یادو کمکونو څخه د برخمن کېدو لپاره باید د بهرنیانو «کاري حالت» ته پام وشي.

<u>آ پي ال</u>

<u>یا د کرایې په برخه کې د دولت مالي مرسته</u> <u>:</u>هغه بهرنیان چې کار نه کوي له یادو مرستو څخه د برخمن کېدو لپاره باید پنځه کاله فرانسه کې اوسېدلي وي، خو د کسب او کار خاوندان بیا تر ۳ میاشتو وروسته ترې برخمن کېدلی شي. بهرني محصلین له دغې قاعدې مستثنی دي.

<u>د کرایې پرته نورې ټولنیزې مرستې</u> <u>:</u>هغه بهرنیان چې کار نه کوي له یادو مرستو څخه د برخمن کېدو لپاره باید پنځه کاله فرانسه کې اوسېدلي وي، خو د کسب او کار خاوندان تر ۳۰ میاشتو وروسته ترې برخمن کېدلی شي.

معلولان او معیوبان تر دغې قاعدې لاندې نه راځي.

همدارنګه منل شوي کډوال له ټولو دغو بندیزونو مستثنی ګڼل کېږي.

د دولت روغتیایي مرسته یا <u>آ ام او</u> چې بې اسناده کسانو ته ځانګړې شوې نه درول کېږي. لومړۍ وزیرې الیزابت بورن نن چهارشنبه دا خبره فرانس انتر سره مرکه کې تایید کړه. خو ناروغو بهرنیانو ته د ځانګړي شویو اقامت کارتونو ترلاسه کول مشروط شوي دي. دغه کارتونه یوازې هغه وخت بهرنیانو ته ورکول کېږي چې د هغوی په اصلي هېوادونو کې مناسب روغتیایي امکانات نه وي موجود. هغه کسان چې کافي عایدات لري له دولتي بیمې څخه نه شي برخمن کېدلی.

۲ .بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکول

په نوي قانون کې د پولیسو قومندانیو ته صلاحیت ورکړل شوی دی چې هغو سکټورونو کې چې د کارګرو له کمښت سره مخ دي بې اسناده بهرنیانو ته د اسنادو د ورکولو په اړه تصمیم ونیسي.

دغه اسناد یو کال اعتبار لري او هر شخص ته د هغه ځانګړي وضعیت ته په کتو سره وروسته ورکول کېږي، خو په دې شرط چې یاد کس لږترلږه ۳ کاله فرانسه کې اوسېدلی وي او تېرو ۲۴ میاشتو کې یې حداقل ۱۲ میاشتې کار کړی وي. دغه «ازمایښتي» ماده د ۲۰۲۶ تر پایه پورې عملي کېږي.

د قانون له مخې بې اسناده بهرنی کارګر کولی شي چې د کارفرمان له اجازې پرته د اسنادو غوښتنه وکړي.

۳ .د خاورې قانون

هغه کسان چې په فرانسه کې له بهرنیو والدینو څخه زیږېدلي وي له بالغ کېدو سره سم په اتوماتیک ډول د فرانسې تابعیت نه شي ترلاسه کولی. دغه بهرنیان باید له ۱۶ څخه تر ۱۸ کلنۍ پورې د فرانسوي تابعیت غوښتنه وکړي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

بله خبره دا چې په فرانسه کې زیږېدلي بهرنیان د محکمې له خوا د محکومېدو په صورت کې د تابعیت غوښتنه نه شي کولی.

۴ ـد پناه غوښتنې ملي محکمه

د پناه غوښتنې ملي محکمې په تشکیل کې هم بدلون راغلی دی. د نوي قانون له مخې به دغه محکمه کې یوازې یو قاضي د هغو پناه غوښتونکو د دوسیو د بیا ارزولو صلاحیت ولري چې د اوفپرا

له خوا یې دوسیه رد شوې وي. په پیچلو مواردو کې د څو قاضیانو شتون ممکن دی.

د یادولو ده چې څو اونۍ مخکې د یادې محکمې قاضیانو د دې مادې او د یو شمېر نورو ستونزو له امله کاري اعتصاب کړی و. هغه وخت سپایس سندیکا غړی سباستین تولر ویلي وو، دغه قاعده پر کارکوونکو د فشار د زیاتېدو لامل گرځي چې له امله یې کارونه په سمه توگه نه اجرا کېږي. نوموړي زیاته کړې وه چې پر کارکوونکو فشارونه د پناه غوښتونکو پر برخلیک هم ناوړه اغېز لرلی شي.

۵ ـد فرانسې د اصولو د نه مراعاتولو په صورت کې د اقامت کارتونو بېرته اخیستل

د ۱۳مې مادې له مخې حکومت کولی شي چې هغه بهرني ته چې د فرانسې جمهوریت د اصولو (د ښځو او نارینه وو ترمنځ مساوات، د جنسي تمایلاتو ازادي، سکولاریزم، د بیان ازادي) قرارداد له لاسلیک کولو ډډه کوي اقامت کارت ور نه کړي او یا یې اقامت کارت بېرته واخلي .

۶ ـد تابعیت لغوه کېدل

هغه بهرنی چې غبرگ تابعیت لري او په قصدي توگه د عامه خدماتو کارکوونکی وژني تابعیت یې ترې بېرته اخیستل کېږي.

۷ ـد ناقانونه اوسېدو جرم

په فرانسه کې ناقانونه اوسېدل جرم گڼل کېږي او جریمه پکې راځي.

۸ ـکورنۍ الحاق

په نوي قانون کې د کورنۍ الحاق شرایط سخت شوي دي. هغه بهرنی چې خپله کورنۍ فرانسې ته را غواړي باید ثابته کړي چې ۲۴ میاشتې (پخوا ۱۸ میاشتې) په فرانسه کې اوسېدلی دی، «ثابت، منظم او کافي» عایدات لري، له بیمې څخه برخمن دی او ښځه یا مېړه یې ۲۱ کاله (پخوا ۱۸ کاله) عمر لري.

چارواکي کولی شي چې د کورنۍ الحاق د غوښتنې په اړه د شک په صورت کې د غوښتونکو د اوسېدو ځای له ښاروالۍ څخه وغواړي چې د هغه کور او عایدات له نږدې بررسي کړي.

بل شرط دا چې د کورنۍ هغه غړي چې غواړي فرانسې ته راشي باید وښیي چې په فرانسوي ژبه پوهېږي او خپل ورځنۍ ستونزې هوارولی شي.

۹ ـد محصلینو له خوا ضمانت

په نوي قانون کې راغلي دي چې بهرني محصلین باید د تحصیلي اقامت کارتونو د ترلاسه کولو لپاره مالي ضمانت ورکړي. د دغه ضمانت موخه «د احتمالي اخراج کېدو» لګښتونه بلل شوي دي.

له دې وړاندې حکومت دغه قاعده د محصلینو ترمنځ د «برابری» اصل خلاف بللې وه او زیاته یې کړې وه چې دا ماده نړیوال محصلین زیانمنوي، خو ګډ پلاوي بیا دغه قاعده قانون کې درج کړه.

دا مبلغ د اقامت کارت د اعتبار تر پای ته رسېدو وروسته بېرته محصلینو ته ورکول کیږي.

۱۰ .اداري توقیف ځای

په قانون کې راغلي چې اداري توقیف ځایونو کې د کم سنه بهرنیانو ساتل منع دي .په تېرو څو کلونو کې فرانسه څو ځله اداري توقیف ځایونو کې د کم سنه کډوالو د ساتلو له امله د اروپا د بشري حقونو محکمې له خوا محکومه شوې ده.

۱۱ .سهمیه بندي

بله موضوع د راتلونکو درېو کلونو لپاره د بهرنیانو د شمېر مشخصول دي. پناه غوښتونکي تر دې قاعدې لاندې نه راځي. که څه هم لږ مخکې حکومت دا ماده له اساسي قانون سره په ټکر کې بللې وه، خو اوس دا اصل په قانون کې درج شوی دی.

## توافق محرمانه آلمان با عراق بر سر اخراج پناهجویان

مهاجرنیوز




برخی از رسانه‌های آلمانی به شواهدی دست پیدا کرده‌اند که نشان می‌دهد، دولت آلمان توافق با عراق بر سر اخراج پناهجویانی که درخواست آن‌ها رده شده را مخفی نگاه داشته است.

بر اساس گزارش تحقیقی برخی از رسانه‌های آلمانی از جمله NDR ، WDR و SZ، دولت آلمان توافق خود با عراق بر سر اخراج پناهجویانی که درخواست آن‌ها رده شده را محرمانه و مخفی نگاه داشته است.

اولاف شولتس، صدراعظم آلمان پیش از این، دستیابی به توافق با کشورهایی را که بیشترین تعداد پناهجویان از آن‌ها می‌آیند، "مهمترین تغییر" در یک "زمان کوتاه" خوانده بود.

دولت آلمان این کشورها را ابزار اصلی در سیاست مهاجرتی خود می‌داند. از سوی دیگر، عراق طی چندین ماه گذشته، با توجه به این که تعداد بسیار زیادی پناهجویانی که درخواست‌شان رد شده از این کشور می‌آیند، به یک شریک گفتگوی مهم برای آلمان تبدیل شده است.

گزارش تحقیقی این رسانه‌ها حاکی از آن است که دولت آلمان و عراق در حال حاضر از آنچه که علنا اعلام کرده بودند بسیار فراتر رفته‌اند و در مذاکرات خود به توافقی رسیده‌اند که آن را مخفی نگه داشته‌اند. دو کشور ماه‌ها پیش با صدور بیانیه‌ای از دستیابی به یک توافق خبر داده بودند اما ظاهرا بخشی از این روند مخفی باقی مانده است.

آلمان از سال پیش در تلاش است که تعداد موارد اخراج پناهجویان رد شده به عراق را افزایش دهد. بر اساس اعلام وزارت کشور آلمان، در پایان ماه اکتبر، حدود ۲۶ هزار عراقی باید کشور را ترک می‌کردند.

این تعداد درخواست رد شده در مقایسه با پناهجویان سایر کشورها به مراتب بیشتر است. با این حال در سراسر سال ۲۰۲۲ تنها ۷۷ نفر مستقیما به عراق اخراج شدند.

برنامه چندوجهی برای بازگرداندن پناهجویان رد شده

بر اساس گزارش رسانه‌های آلمانی که این کار تحقیقی را انجام داده‌اند، آلمان و عراق در بهار سال جاری اهداف مشترک خود را در قالب توافق‌نامه سه صفحه‌ای ثبت کردند.

در این سند، هر دو طرف تمایل خود را به منظور تقویت همکاری‌های متقابل خود در زمینه مهاجرت از جمله مهاجرت قانونی، همکاری کنسولی، بازگشت پناهجویان رد شده و غیره اعلام کردند.

یکی از اهداف مهم این توافق، تکیه بر "بازگشت داوطلبانه افراد بدون حق اقامت" است .مقامات مسئول آلمانی و عراقی برای رسیدن به این هدف، قصد دارند یک "برنامه چندجانبه" را راه‌اندازی کنند.

بیانیه مشترک دو کشور به طور خاص به مساله مهاجرت کارگران می‌پردازد و بر اساس آن هر دو طرف با این موضوع موافق‌اند که "مهاجرت قانونی برای هر دو جامعه مفید است و روابط بین دو کشور را تقویت می‌کند." از این دو کشور قصد دارند مراحل صدور ویزا را برای مسافران تجاری یا دانشجویان آسان‌تر کنند.

حل مشکل تایید هویت

بزرگ‌ترین مشکل در زمینه بازگرداندن و اخراج پناهجویان رد شده، مساله احراز هویت است. از آن جایی که بسیاری از پناهجویان در آلمان، هیچ‌گونه مدرک شناسایی ارائه نمی‌دهند، این افراد را تا زمانی که هویت‌شان مشخص نشود، نمی‌توان به کشور مبدا بازگرداند. آلمان و عراق اکنون توافق کرده‌اند که همه شهروندان در قلمرو یکدیگر باید شناسایی شده و مدارک مناسب ارائه کنند.

اگر هویت فردی نامشخص باشد، هر دو طرف می‌توانند از یکدیگر بخواهند داده‌های بیومتریک را با هم مبادله کنند. در همین راستا، مقامات سفارت عراق در آلمان برای تعیین هویت با اتباع احتمالی خود مصاحبه‌هایی نیز انجام داده‌اند.

اما بخش‌هایی از توافق که تاکنون مخفی نگه داشته شده‌اند، اینک ممکن است اثرات خود را نشان داده باشد. بنا به گزارش سازمان "پرو ازول"، عراق به طور فزاینده‌ای هویت پناهجویان رد شده را تایید می‌کند. در حالی که در سال ۲۰۲۲ تنها ۱۱۵ مورد مصاحبه با شهروندان مشکوک به تابعیت عراق انجام شد، این تعداد تا اوت امسال به ۳۳۹ نفر افزایش یافت.

تعداد کل موارد بازگردانده شدن‌ها به عراق نیز دو برابر شده و از ۷۷ مورد در سال ۲۰۲۲ به ۱۶۴ مورد تا پایان اکتبر ۲۰۲۳ رسیده است. پروازهای چارتر از روز سه‌شنبه از مونیخ به مقصد بغداد آغاز شده‌اند. به گفته دولت ایالت بایرن، ۲۸ عراقی در این هواپیما حضور داشتند و از میان آن‌ها ۱۵ نفر است پیش از این مرتکب جرایمی شده بودند.

هراس پناهجویان از بازگردانده شدن

این گزارش با اشاره به یک مورد پناهجویی که درخواست او رد شده جزییات بیشتری از شرایط این گروه از پناهجویان را ارائه می‌دهد. جوان ۲۴ ساله‌ای که چند سال پیش از حوالی موصل به آلمان آمد، در این کشور دوره‌های کارآموزی گذرانده و به مدت ۹ ماه به عنوان کارآموز در یک فروشگاه زنجیره‌ای معروف کار کرده و زبان آلمانی یاد گرفته است. اما با وجود شرکت در دوره‌های ادغام فرهنگی، اینک درخواست پناهندگی او رد شده است.

او با ارائه شواهدی مبنی بر ناامنی و ترور در عراق، در نهایت نتوانست مقامات آلمانی را متقاعد کند که خود او در صورت بازگشت با آزار و شکنجه روبرو خواهد شد.

اکنون او یکی از هزاران عراقی است که باید آلمان را ترک کنند. این موضوع برای پناهجویان عراقی به یک روال رایج تبدیل شده است. سه‌چهارم تمام درخواست‌های پناهجویی عراقی‌ها در حال حاضر رد می‌شوند. این پناهجوی ۲۴ ساله می‌گوید که می‌ترسد و از خودش می‌پرسد اکنون دولت‌های برلین و بغداد قصد دارند با افرادی مانند او چه کنند.

بر اساس این گزارش، نه تنها آلمان، بلکه کشورهای اتریش و سوند نیز ظاهرا توافق‌نامه‌های مهاجرتی محرمانه‌ای با عراق بسته‌اند. کمیسیون اروپا نیز این موضوع را تایید کرده است که امسال در سه ماهه دوم و سوم، "تغییر بی‌سابقه‌ای" در سیاست اخراج پناهجویان رخ داده است.

بر خلاف کمیسیون اروپا، دولت آلمان از پاسخ به این موضوع خودداری کرده است. وزارت کشور آلمان نیز اعلام کرده که به منظور حفظ "محرمانه بودن" در مورد "جزئیات" این موضوع اظهارنظری نمی‌کند.

دولت آلمان می‌گوید، این همکاری بر مبنای یک نوع رویه بدون قرارداد است و از منظر وزارت کشور، همکاری با دولت عراق، مبتنی بر اعتماد است.

این گزارش حدس می‌زند که این رویه، یعنی بی‌پاسخ گذاشتن پرسش درباره جزییات قرارداد محرمانه مهاجراتی با عراق احتمالا از کجا ناشی می‌شود. محافل نزدیک به دولت اعلام کرده‌اند که یکی از کشورهای طرف توافق، به طور ناگهانی به همکاری خود پایان داده است. بر اساس تحقیقات صورت گرفته، هر یک از طرفین می‌تواند بدون ذکر دلیل، توافق صورت گرفته را فسخ کند.

اخراج پناهجویان رد شده و مساله نقض حقوق بشر

**یکی از پیامدهای مربوط به اخراج پناهجویان رد شده، مساله نقض حقوق بشر در عراق است. بر اساس این گزارش، شکنجه برای اعتراف اجباری، دستگیری خودسرانه و آدم‌ربایی از سوی نیروهای امنیتی عراق همچنان در این کشور رایج است.**

**اپوزیسیون دولت آلمان در همین زمینه به وضوح از دولت فدرال این کشور انتقاد کرده است و دولت را متهم کرده که سیاست پناهندگی را به یک موضوع مخفی تبدیل می‌کند.**

**کلارا بونگر، سیاستمدار امور پناهندگی حزب چپ‌های آلمان می‌گوید: «اخراج پناهجویان در بدترین حالت، موضوع مرگ و زندگی است.» او می‌افزاید، دولت باید آنچه را که در مورد اخراج با عراق توافق شده است فاش کند.**

**الکساندر تروم از حزب دموکرات‌مسیحی می‌گوید اساسا توافقات محرمانه قابل درک است اما "صدراعظم نمی‌تواند توافق‌نامه‌های مهاجرتی را محور سیاست‌های خود قرار دهد و سپس پارلمان و افکار عمومی را در مورد اینکه این توافق‌ها با کدام کشورها منعقد شده است، در بی‌اطلاعی مطلق رها کند".**

## روزا اوتونبایوا: پناهجویان اخراج شده از پاکستان، فقیرترین مردم اند

رادیوآزادی




**یک لاری حامل پناهجویان افغان که از پاکستان اخراج شده اند**

**رئیس دفتر هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) می‌گوید که پناهجویان اخراج شده از پاکستان، فقیرترین و بی‌امکانات‌ترین مردم اند.**
**روزا اوتونبایوا که شام گذشته (۲۰ دسمبر) گزارش سالانه‌اش را به شورای امنیت سازمان ملل متحد ارائه کرد، گفت که ۸۰ هزار تن از این اخراج شده‌ها خانه و سرپناهی در افغانستان ندارند و نمی‌دانند به کجا روند.**

**او افزود که از آغاز اخراج اجباری پناهجویان بدون سند از پاکستان، نزدیک به نیم میلیون تن در آستانه زمستان به افغانستان باز گردانده شده اند.**
**حکومت پاکستان از اول ماه نوامبر اخراج این پناهجویان را آغاز کرد و گفت که یک اعشاریه هفت میلیون پناهجوی بدون سند افغان را اخراج می‌کند.**
**با وجود واکنش‌ها، انتقادها و درخواست‌های کشورها و نهادهای مختلف، پاکستان تاکید کرده که به این روند ادامه خواهد داد.**

## 61مهاجر نامنظم در سواحل لیبی مفقود شده‌اند

صدای ترکیه

**فلاویو دی جاکومو سخنگوی دفتر هماهنگی مدیترانه سازمان بین‌المللی مهاجرت اطلاعاتی در این زمینه ارائه کرد**



**سازمان ملل متحد از مفقود شدن 61 مهاجر نامنظم در سواحل لیبی خبر داد.**

**فلاویو دی جاکومو سخنگوی دفتر هماهنگی مدیترانه سازمان بین‌المللی مهاجرت، از طریق شبکه اجتماعی ایکس نوشت: در اثر واژگون شدن قایق حامل 86 مهاجر پس از حرکت از شهر زواره لیبی به سمت دریای مدیترانه 61 نفر مفقود شده‌اند.**

**وی نوشت: در طول سال جاری بیش از 2250 نفر در بخش‌های میانی دریای مدیترانه جان باختند. این رقم تکان‌دهنده و تراژیک نشان می‌دهد که متاسفانه برای نجات جان انسان‌ها در دریا تلاش کافی صورت نگرفته است.**

**در اخبار منتشره در مطبوعات ایتالیا نیز آمده است: 25 نفری که پس از این حادثه نجات یافتند، به طرابلس پایتخت لیبی انتقال داده شده‌اند.**

بر اساس آمار سازمان ملل متحد، سال گذشته در مناطق میانی دریای مدیترانه **1377** مهاجر نامنظم در حین تلاش برای رفتن از آفریقا به اروپا جان خود را از دست داده بودند.

منطقه دریای مدیترانه بین ایتالیا، مالت و لیبی در سال‌های اخیر به‌عنوان یکی از مسیرهای مورد ترجیح برای مهاجرت غیرقانونی از آفریقا به اروپا جلب دقت می‌کند.

به‌دلیل واژگونی قایق‌ها و یا در اثر کمبود اکسیژن و آب ناشی از ازدحام بیش از اندازه در قایق‌ها، هر سال شمار زیادی مهاجر نامنظم در حین تلاش برای عبور از دریای مدیترانه جان خود را از دست می‌دهند.

خبرنامه